سید ذاکر شاه (سادات) ۲۰۱۳/۱۰/۰٤

# د واشنګټن کنفرانس ته وړاندیزونه

الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين على آله و أصحابه أجمعين. إِنَّ اللَّهَ لا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ

له هر څه دمخه ددې غونډې جوړونکي او پالونکوڅخه بیا د افغانستان دیووالی او خپلواکې حرکت او د خپلواک افغانستان ملی حرکت، او د نوموړي حرکتونو له مشرانو څخه مننه کوو چې دافغان ولس د آرامۍ او هوسایۍ په اړه د بشري خواخوږۍ احساس کوي او په دې اړه یې عملي ګام پورته کولو لپاره تابیا کړی، په ځانګړي ډول دا چې مونږ ته یې د ولس د نجات او ښه راتلونکي لپاره دخپل نظر د څرګندولو فرصت مساعد کړی، همدا شان له ټولو هغو افرادو او ټولنو څخه هم مننه کوم چې په دې اړه یې هڅې کړې دي.
د افغانستان په راتلونکي حکومت کي د سیاسي قدرت انډول د ملی ، دموکراتیک ، ټولنیز او اسلامي ارزښتونو ته په پام کې نیولو سره ریښتینی تیاري او تابیا وشي.
د افغانستان او د افغان ولس او د سیمی سمبالتیا او ښه راتلونکي لپاره په راتلونکي حکومت کې د قدرت د انډول یا په حکومت کې د افغاني ټولو اړخونو د ګډون په اړه د ریښتینې سولی او ملی وحدت پروسی او جرګګی باندی دی د مؤقتی بیطرف انتقالی حکومت او نړیوال ټولنی تر نظارت لاندی کار وشی چې په ډیرغښ باور دا ویلی شم چې غیر له همدې لیاری بل هیڅ ښه بدیل یې نه وینم او نه دې نړیواله ټولنه او د ائتلاف ملګري بل کوم څه باندې چې د هغه په نتیجه کې به نوری لانجی راولاړې کړي فکر وکړي . . . لکه د فدرالیزم، یا ویش او داسی نور ناشونی او غیرعملی سوچونه دې خپل د ذهن څخه وباسي او یو بی طرفه دریم قوت کسان دی ونومول شي کوم چې دې پروسی ته مؤثرواقع کیدلی شی او په ټولو خواوو کې د ښه نفوذ لرونکی وي او په لاندی صفاتو دسولی د پلی کولو پروګرام او اساسي قانون تعدیل او تدوین ضروري ګنم:
۱- لومړی د اساسي قانون ځینی مادې چې افغان شمول حیثیت ونلري اصلاح او تدوین شي چې افغان شموله شي او د ټولو افغانی اړخونو لپاره د منلو وړ وي تر څو پروني تپل شوي څیری یو ځل بیا په ولس ونه تپل شي:
هرحکومتي نظام د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو د تنظیم او سمون لپاره یو بشپړ او څرګند قانون ته ضرورت لري، ترڅو د ولس لپاره د مترقي او سوکاله ژوند لاره هواره شي، د دې قانون په چوکاټ کې هر څوک خپله دنده په سمه توګه وپیژني، اساسي قانون د هر هیواد لپاره مبرم ضرورت دی، ځکه چې له هغه پرته د ولس او هیواد د پرمختګ چارې او نظم راوستل ناشوني دي.
اوټولنه به ستونزې او ګډوډې سره مخامخ کیږي، د اساسي قانون له لارې به د افغانستان د هر وګړي شخصي، مدني او سیاسیي حقوق تنظیم شي، اساسي قانون به ورونو قومونو ته له تعصب او تبعیض پرته عادلانه حقوق ورکړي.
زه په زغرده ویلې شم چې د اساسي قانون مسودې به د حریت په ازاده فضا کې د افغاني ملی قانون پوهانو لخوا لیکل کیږي بیا به ولس ته د تایید لپاره وړاندې کیږي، خو تر هغې وخته پورې د افغانستان اوسنې اساسي قانون ته اعتبار ورکړشي که څه هم چې ډیر داسی نیمګړتیاوې به لري چې بیا به پرې غور وشي.
۲- د ۲۰۱۴ ټولټاکنې لپاره د ښه قانونیت او عدالت په رڼا کې د امن شرایط برابرول تر ټولو ضروري بولم چې ددې لوې او با مسؤلیته دندې لپاره د یوې بې طرفې جرګګې یا مؤقتې شورا جوړښت اړین وینم .
زما په اند د ۲۰۱۴ز کال ټولټاکنې د افغانستان د کشالې د حل لپاره به ډیره ګټوره نوي ځکه چې د دغو ټولټاکنو پلان به د موجوده نظام تر زور او اثر لاندې وي . په داسی حال کې چې تر ٪۵۰ زیاد ځایونه د دوې د واک او کنټرول څخه بهر دي نو نتیجه به یې هم د پخوانیو ټولټاکنو نه بهتره نوي، ټولو ولیده چې د ۲۰۰۴ او۲۰۰۹کلونو ټول ټاکنو د افغان ولس کړاوونه کم نه بلکې زیات یې کړل، په نامه د ولسي جرګې انتخابات هم دوه ځله وشول خو د دې پر ځای چې د ملت ستونزې هواري شي حالات نور هم خراب شول، دا ځکه چې انتخاباتي قوانین، اداري او چارواکي یې ټول د پردیو د خواهشاتو او غوښتنو په مدار کښې جوړړېدل، د افغان ولس اساسی غوښتونو او ضرورتونو ته هیڅ پام و نه شو، او یوځل بیا هماغه پخواني زور واکانو او جنګ سالارانو ځانونه د قدرت په ګدې ټینګ کړل، چې زمونږ مجبور ولس یې لکه اسیرانو خپل پنجو کې ساتلي نوموړو ټاکنو نه یوازې دا چې دافغانستان د بی وزله ولس زخمونو ته پټې کینښوده اولانجې یې حل نکړه بلکې د زور واکانو اداري نړیوال او لویدیځ ملاتړي یې هم له زیاتي خنډونو سره مخ کړل، چې نتیجه یې نن مونږ تاسی ګورو چې بې حده درغلۍ وشوې، د رایو صندوقونه لا درکه شول، د وفاداری حلف مراسم د ځنډ او خنډ ښکار شول، او د ولسي جرګې افتتاحي غونډه څو میاشتې وځنډیده.
۳- د مسلحو مخالفینو دهویت او موجودیت منل او دوی سره خبری اتری یا دیالوګ کول حتمی بولم ځکه چې د هغوې د موجودیته پرته د سولی راتګ ممکنه نه وینم!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان مسلح مخالفين چې د ګاونډ ملکونو په مرسته ځانونه د جګړو له ليارو ثابت کړي او حق غوښتنه کوي د ځمکې پر سر يو مسلم حقيقت دي، او د سولې د ريښتينې پروسئ ښخه بهتر بل ښه کوم طرحه او فورمول نه وينم . خوشرط يې دادې چې يوه بيطرفه مؤقته اداره د نړيوال ټولنې به مرسته او نظارت لاندې دا کار تر سره شي اوهيڅ څوک او اړخ دې دځان ځانې فکر نکوي او د ملي ګټو، ملی ارزښتونو، ځمکنې بشپړتيا او خپلواکې ته په پام کې نيولو نه پرته به يو ګام هم نه د ولس او نه د هيواد په ګټه وي نو هره خوا سازمانونه او ډلی دې تعهد وکړي چې دا لمړيتوبونه په پام کې ولري او په درنه سترګه به ورته ګوري.

۴- د افغانستان خپلواکي او ځمکني بشپړتيا ته د ټولو ګاونډيانو په شمول په احترام کتل او د اوسني سرحداتو په کلکه ساتل، متقابل احترام د نورو ملکونو او ګاونډيانو سره د هيواد د ملی ګټو په پام کې نيولو سره ښه اړيکې ضروری بولم:

الله (ج) انسان چې پيدا کړی دی، نوخپلواکي يې د فطرت برخه ده،هيڅ انساني ټولنه نشي کولی چې له خپلواکي ښخه پرته په اقتصادي، سياسي، کلتوري او علمي برخو کې د خپل ولس په ګټه وده وکړي، او يا پخپلو شتو منابعو، استعدادونو او حتی د خپل کار پر ثمراتو اختيار ولری، له استقلال سره مينه په طبيعی توګه د افغانانو په وينه او خټه کی نغښتې ده.

دتاريخ په اوږدو کې ښايي چې افغانانو په ميړانه او شوق سره د خپلواکي لپاره خپل سرونه او ارزښتناکې شتمنی قربان کړې دي، په تيروڅو لسيزو کې چی زمونږ هيواد د يرغلونو شاهد دې نوغيرتي ولس يې د يرغل په وړاندی کومی معرکې کړې دي ، هغه ټولې دخپلواکي او ځمکني بشپړتيا پخاطر شوې دي، ددې هدف د ترلاسه کولو په لاره کې نه دبل چا مالي، نه نظامي او نه سياسی طاقت ويروليدي چې تاريخ يې شاهد دې، او نه خپلې تش لاسی، بيکسی او سختو شرايطو له دې لارې راګرځولي دي. که مونږ غواړو چی د هيواد د طبيعی ودی او وقار لپاره يو ځل بيا لاره پرانيزو، نو لازمي ده چې د افغانستان خپلواکي او ولسواکي په پام کې ونيول شي،

تر څو افغانان وکولی شې چی د ژوند په ټولو برخو کی د خپل ولس او سيمې په ګټه ځواکمنې او ولس پلوې پريکړې وکړي.

۵- په دری ګوني مقننه قواوی دې په جديت او ريښتينولي کار وشي اولاقل د ګاونډ ملکونه په کچه سمبال کړاې شي چې په راتلونکې کې هر وخت د ملی ګټود ساتنی او ځمکني بشپړتيا زمانت ورکړي.

دا يو څرګند حقيقت دی چې هر هيواد او ټولنه د خپلواکې له حصول نه وروسته، د خپلواکې، داخلي امنيت او په خاصه توګه د سرحداتو ساتنې ته اړتيا لري، اودغه اړتياوې ولس، دين او هيواد ته وفاداره ملی اردو او پوليس پوره کولی شی، نو لازمي ده چی تر ټولو د مخه زمونږ پوليس او اردو په ملی روحيه د ملی ګټوساتنو او اصولو په رڼا کی وروزل شي، او د مکلفيت قانون دې وکارول شي چې له ګوندي، لساني، نژادي او سمتي تعصب ښخه پاکه وي، موخه يې يوازی د هيواد دامن او خپلواکي ساتل او ولس ته خدمت کول وي، که داسی نه وي نو بيا دغه شان اردو، ملي او اسلامي اهداف نشي ساتلی او نه ملی اردو ورته ويلی شو، د ملي ګټو په ځای به د ولس، دين او هيواد ضد اهدافو لپاره استعماليږي، له همدې امله څومره چې د افغانستان د اردو شتون ضروري دی هغومره د هغې اصلاح او سالمی روزنی ته اړتيا ده.

افغانستان له اقتصادي پلوه يو وروسته پاته هيواد دی، په اوږده موده کې د لوړې معاش خورې اردو د ساتلو او پاللو توان نلري، هغه هم چی مصارف يې زمونږ له داخلي عوائدو ښخه څو برابره زيات وي، ځکه پدې صورت کې به حکومت مجبوريږي چی د پور ورکوونکو هيوادونو مشروطو او په ځينو حالاتو کې غير معقولو غوښتنو ته غاړه کښيږدي، ټول ولس به د سود تر بار لاندی راشي او په پای کې به هيواد له اقتصادي ناورين سره مخ شي، له همدې امله ښه به دا وي چې ټول افغانان د هيواد د ساتنې وجيبه د عسکرې د مکلفيت قانون په رڼا کې ادا کړي.

×× پدی کی هم شک نشته چې په ننی نړئ کې له قوي دفاعي نظام ښخه پرته يو هيواد د امنيت او سولی احسا س نشی کولی. تل به د نورو تر خطر لاندی شپی او ورځی تيروی؛ ځکه خو له خپلواکی نه وروسته افغانستان بايد د ځمکني ځواک ترڅنګ، قوي تربيه شوي هوايي ځواک هم ولري، څو هيواد او هيواد وال مو ډاډمن وي.

بيا هم بايد ووايو چی د هيواد خپلواکي منل او دولی رآبو ته د احترام په سترګه کتل اساسي شرط دی ځکه د اشغال په صورت کې به بيا دغه ټول قوت د خپل ولس په خلاف او د پرديو د اهدافو لپاره استعماليږي، په تيرو لسيزو کی مونږ وليدل چی په سياسي بنيادونو جوړه شوې اردو تل د خارجي يرغل په ځای د ولس په مقابل کې استعمال شوې او دريدلې ده، او د ګڼو غميزو سبب ګرځيدلې ده.

د يوه هيواد د دائمي سولې لپاره د قوي اردو ترڅنګ له نورو هيوادونو سره په تيره بيا له ګاونډيانو سره ښې اړيکی درلودل اړين دي، پدې کې شک نشته چې د يوه هيواد ستونزې په ګاونډي هيواد اثر کوي، همدا راز پرمختګ او سوکالي يې هم يو پر بل اغيزه لري، افغانستان هم له دې ښخه مستثنی نه دی، خو له ټولو نه مخکې لکه څنګه چی هر هيواد ته د هغه ملي ګټې او د ولس غوښتنې مهمې دي، دغه شان مونږ ته هم ملي ګټې او د خپل ولس غوښتنې لومړيتوب لري، بايد د همدې ملي ګټو او د ولس د غوښتنو په رڼا کې افغانستان له ټولو ګاونډيو هيوادونو سره د دوه اړخيز احترام په چوکاټ کی ښې اړيکې ولري، په ټولو برخو کې لکه په اقتصادي، علمي، کلتوري، اجتماعي او نورو برخو کې د اسلامي اصولو او ملي ګټو په پام کی نيولو سره همکاری ورسره وکړی.

۶- په افغانستان کې دايمې سوله څنګه راتلای شي او کوم معيارونو نه بايد کار واخستل شي ؟. . .

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سوله او آرامي د الله جل جلاله د ټولو مخلوقاتو له پاره یوه طبیعي غوښتنه ده، په ځانګړي ډول انسان سولې او ارامۍ ته زیاته اړتیا لري، نن ورځ انسان پرمختګ کړی دوژلو او ړنګولو لپاره له سپکو وسلو نیولې تر کیمیاوي او ذروي وسلو پورې یې په اختیار کې دي؛ ځکه خو تر بل هر وخت اوس سولې او آرامۍ ته زیاته اړتیا لري، او باید دسولې لپاره کار وکړي. مونږ دسولې او آرامۍ لپاره چې دټولو هدف دی بې دریغه قربانۍ ور کړې دي او لا هم ورته تیار یو، خو له بده مرغه هر کله دا جنګونه په مونږه تپل شوي خو په اصل کې زمونږ را ولاړیدل دسولې او امنیت لپاره دې، ټولې نړۍ ته معلومه ده چې د مجاهدینو په راتګ او نظام کې افغان مظلوم ولس له لویو ستونزو سره لاس او ګرېوان شول، کورني جنګونه، ګډوډي او بې امنیتي تر ټولو لوړ پړاو ته رسېدلې وه، نه د ولس سرخوندي و، نه د چا عزت او ناموس، نه یې مال، هېواد عملا د تجزیې په موخه روانه وه، ځکه خو دا زمونږ اسلامي او افغاني فرض دې چې د الله جل جلاله په نصرت ، د نړیوال قوتونو په ریښتیني همکارۍ او دولس په مرسته عملا دغه ناخوالو ته دګڼو کوښښونو اوقربانیو په نتیجه کې به په داسې ډول دپای ټکی کېښودل شي، چې څوک یې تصور هم نشي کولای.

د۱۱سپتمبر دپیښې ترنامه لاندې له افغان ولس څخه څه واخستل شول اوڅه ورکول شول او دښه راتلونکې لپاره څه باید وشي؟

په ډېرتاسف سره دا تریخ او تاریخي حقیقت باید ومنوچې د نړیوالو ځواکونو نیغ په نیغه دننه کېدل په افـغان خاوره کې افغان ولس ته یوځل بیا د روسی ښکیلاک ګرو دوره ورپه یاد کړه چې په نتیجه کې یې زمونږ ګاونډ کې ملکونو سره چې کوم پخواني ځمکني او تاریخي کشالې لرو، دهغو تبرګي ته لاستی ورواچول چې پروني اونني ناخوالو سره ګډ لاهم لاس او ګرېوان یو آن تر دې چې په بعضی سیمو کې ګاونډیانو ته سپارل شوي ځمکې او نظامی سنګرونه به زمونږ ولس ته نورې ناخوالې او کشالې راولاړې کړي چې همدا اوس اوس دسولې او امن د لوی نعمت څخه یې زمونږ دواړه خوا لر اوبر افغان  ولسونه یې محروم کړي دي، چې هم خارجي او هم داخلي لاملونه لري .دا دې په تیرو دولسو کلونو جنګ جګړه کې تقریباً نژدې یوملیون بی وزلې افغانان په شهادت رسیدلي او نوي، نوي پرابلمونه یې افغان ولس ته راولاړې کړي، بې امنیتي، کوپراتیفی او جنګ سالاری نظام ورتپل،افغانان هیڅ کله نه تروریستان وو او نه دي خو چې کله جنګونه پرې تپل شوي نو ضرورېږي خپل د ځمکني بشپړتیا ساتنه  خامخا د سراومال او ځانونو په بیه تل مدام کړي او کوي او د تروریستانو ځالې هم  برالا او معلومداروو او شو چې په افغانستان کې نه وو او نشته او زمونږګاونډ ملک چې د تروریزم زېږونکې دي خوهمدا نړیوال ایتلاف قوتونه سترګې پرې پټوي، نو بیا دا ددولس کلونو تباهې ځواب به څوک ورکوي؟

په عام ډول ددغه ناروا او سوله وژونکي جنګونو ځینې ناخوالې او پایلې چې مونږ تاسی ټول پرې پوهېږو په لاندی ډول یادولی شم :

۱ - دافغانستان تاریخی او ځمکني کشالی لپاره منفی هڅه کول او د بل چا یا د ګاونډیانو په ګټه د ختمولو شوم نیت او دسولې فضا ګډوډول او یا دا چې د بل چا په لمسون نور داخلي کشالی راولاړول.

۲ - پر افغان ولس یوه فاسده مافیایی او په مخدره توکیو کې ښکېله اداره ورتپل او د ولس راتلونکې سرنوشت د ولس د قاتلینو په لاس ورکول.

۳ - متحد افغان ولس او ګران هېواد د ګڼو سمتي، لساني، قومي، سیاسي او مذهبي تعصبونو پر اساس یو ځل بیا ټوټه ټوټه کېدو ته برابرول او زمونږ ګاوندیانو تبرګي ته لاستی اچول او هغوی خوشحالول.

۴ - مخدره موادو ته رشد ورکول، او د افغانستان نوم د نړۍ په کچه دلست په سر کې راوستل او ساتل او دا په داسې حال کې چې حتی د طالبانو د نظام په آخروختونو کې دغې ستونزې ته نږدې دپای ټکی ایښودل شوې وو.

۵ - ګڼ بشري حقوق تر پښو لاندې شول، چې تر ټولو مهم یې دښځو د ژوند او برخلیک خبره ده، د موثقو څېړنو له مخې هر کال په زرهاوو ښځې په مختلفو ډولونو د زور زیاتي قرباني کېږي، حتی په سلهاوو یې خپل ژوند له لاسه ور کوي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ